PROPERTY OF ACKU

دغه رنگ مو تاسې غوره امت گرځولي یاست چې پر خلکو گواهان اوسئ

اونیزه

شهادت

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

شهادت | دویم کال، ۸۴ مه گڼه، | چهارشنبه ۱۳۸۹ هـ ل د لیندی ۳ مه | د۱۴۳۱ هـ ق د ذوالحجة ۱۷ مه | د۲۰۱۰ م د نوامبر ۲۴ مه

الهي لارښوونې

ای مؤمنانو! رکوع او سجده وکړئ، د خپل رب عبادت وکړئ. نیکیو ته ملا وتړئ. تر څو مو خلاصون په برخه شي. د الله په لیار کې داسې حق جهاد وکړئ چې دهغه سره ښايي. هغه تاسو غوره کړی یئ او په دین کې یې په تاسو کوم سختوالې او تنگي نه ده ټاکلې. د خپل پلار ابراهیم پر ملت ټینگ ودرېږئ او الله پاک پخوا هم تاسې مسلمان نومولي واست او په دې قرآن کې هم ستاسې همدا نوم دی . (سورة الحج : ٧٦ - ٨٨)

نبوي ارشاد

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:

یو مسلمان د بل مسلمان ورور دی، نه دې پخپله پر هغه ظلم کوي او نه دې بل ظالم ته سپاري. کوم مسلمان چې د خپل مسلمان ورور اړتیاوې پوره کوي نو الله تعالی دهغه اړتیاوې پوره کوي. کوم مسلمان چې د خپل مسلمان ورور تکلیف لرې کوي نو الله تعالی د قیامت په ورځ دهغه تکلیف لرې کوي. کوم مسلمان چې د خپل مسلمان ورور پر عیب پرده اچوي الله تعالی د قیامت په ورځ دهغه پر عیبونو پرده اچوي. (بخاري)

وزارت دفاع امریکا:

میزان خودکشی نظامیان امریکایی بیش از تلفات جنگ افغانستان است

خبرگزاري فارس:
جدیدترین بازبینی سالانه وزارت دفاع امریکا نشان داد که میزان خودکشی در میان نظامیان و کهنه سربازان امریکایی بیش از تعداد تلفات نظامیان این کشور از سال ۲۰۰۱ تاکنون در افغانستان است.
به گزارش فارس به نقل از خبرگزاري فرانسه، جدیدترین بازبیني سالانه سازمان امور کهنه سربازان امریکا که زیر نظر وزارت دفاع این کشور فعالیت دارد، نشان داد که بیش از یکهزار و ۱۰۰ تن از نظامیان امریکایي در فاصله زماني سالهاي ۲۰۰۵ تا ۲۰۰۹ خودکشي کرده‌اند که این آمار بیش از تعداد نظامیان امریکایي است که از سال ۲۰۰۱ تاکنون در افغانستان کشته شده‌اند.
در گزارش این سازمان وزارت دفاع امریکا نتیجه گیري شده است که هنجارهاي فرهنگي ارتش، مي توانند برخي اوقات رفتارهاي کمک‌جویانه را در افراد خاموش کند و تأثیر این مسئله، آسیب‌پذیري نظامیان در مقابل خودکشي را بیشتر مي کند.
اطلاعات موجود در وب سایت وزارت دفاع امریکا نشان مي‌دهد که

بقیه در صفحه ۴

امریکایي تګلاره تروریزم ته لاره

دریم مخ

ناټو د افغانستان د پارلماني ټاکنو په پایلو خوشاله نه ده

تاند ویب پاڼه :
باخبرو سرچینو د نوم د نه خپرولو په شرط تاند وبیپاڼې ته ویلي چې ناټو افغان حکومت ته د پارلماني ټاکنو په باب شکایت کړی او وايي دغه پایلې به په هیواد کې قومي شخړې پیدا کړي.
د ناټو چارواکو افغان حکومت ته په یوه رپوټ کې په ډاگه کړې ده چې د سپتمبر د میاشتې په پارلماني ټاکنو کې د پښتنو، ازبکو، ترکمنو او بلوڅو ریښتینی استازیتوب نه دی شوی او دا کار ښايي قومي جگړو ته لار پرانیزي.
سرچینې تاند وبیپاڼې ته ویلي چې ولسمشر کرزي د ناټو پر رپوټ خپله کابینه خبره کړې ده خو تر اوسه پورې

پاتې ٤ مخ

پر خپلو لوېدیځو متحدانو د کرزي د نیوکو علت څه کېدای شي؟

خبري رسنی:
په داسې حال کې چې د افغانستان جگړه حساس پړاو ته رسېدلې، د افغانستان ولسمشر په ښکاره پر خپلو متحدانو انتقادونه کوي، د هغوی پرېوځي تاکتیکونو نیوکې کوي او کله ناکله ورته دا وايي چې دوی په دې هیواد کې یوازیني لوبغاړي نه دي.
رویټرز خبري اژانس په دې باب په یوه تحلیلي راپور کې وايي: د ولسمشر کرزي سلوک د ده نړیوال شریکان مغشوشه کړي او هڅه کوي چې د کرزي د دې سلوک په انگېزې او علت پوی شي، ایا دی غواړي چې خپل نړیوال متحدان وپاروي، ایا منظور یې دا دی چې په خپل هیواد (افغانستان) کې پلویان پیدا کړي او دا وښيي چې دی د امریکا په مشری د نړیوال ایتلاف گوډاگی نه دی.
کرزي په خپلو تر ټولو توندو څرگندونو کې چې تېره اوونی یې له واشنگټن پوسټ امریکايي ورځپاڼې سره په مرکه کې وکړې، د شپې په مخه د حملو د بندېدا او د ناټو ځواکونو د عملیاتو د شدت د کمېدا

پاتې ٤ مخ

د لیزبون په غونډه کې کرزی او میرکل سَره، سِره شول

تاند ویب پاڼه:
یوې خبرې سرچینې ، چې په لیزبون کې یې د ناټو په سرمشریزه کې گډون کړی وو، تاند ته ویل چې د ناټو د مشرانو د غونډې په څنگ کې د شنبې په ورځ د افغانستان ولسمشر حامد کرزی او د جرمني صدراعظمه انگیلا میرکل هغه مهال سره ، سره شول چې کرزي وویل ایتلافي ځواکونه ډېر زیات عام افغانان وژني.
سرچینې وویل وروسته له دې چې کرزي وویل چې د ناټو په مشری نړیوال ځواکونه په خپلو عملیاتو کې عموماً د شپې په عملیاتو کې عام او بې گناه افغانان وژني او د دوی دا کار افغانان پاروي دي، د جرمني صدراعظمې د عامو افغانانو پر وژل کېدو خواشیني څرگنده کړه خو د کرزي په ځواب کې یې وویل چې د ناټو غړي حکومتونه هم ملتونه لري او د افغانستان له ولسمشره غواړي چې نور همکار واوسي څو د ناټو عملیات بریالي شي.
سرچینې تاند ته وویل چې د افغانستان پلاوی په تېره بیا ولسمشر کرزی له دې سره سره چې

پاتې ٤ مخ

امریکا بعد از ۲۰۱۴ نیز به مبارزه خود علیه تروریزم ادامه می دهد

احمد شاه «الوحدت» Ahmad Shah WAHDAT Mobile: 0700252598 E-mail: ...@yahoo.com

کابل رسنی:
سفیر امریکا در کابل پس از اشتراک در اجلاس سران ناتو در پرتگال گفت، پس از سال ۲۰۱۴ میلادی که مسوولیت های امنیتی افغانستان به نیرو های این کشور سپرده می شود، ایالات متحده امریکا بعد از آن زمان نیز به مبارزه خود علیه تروریزم در افغانستان ادامه می دهد.
کارل آیکن بیری به روز دوشنبه به خبرنگاران در کابل گفت که امریکا بعد از سال ۲۰۱۴ میلادي دو ماموریت، یکی مبارزه با تروریزم و دیگر آموزش و تجهیز نیرو های افغان را هم چنان دنبال می کند.
وی افزود: "احتمالاً دو ماموریت پس از سال

بقیه در صفحه ۴

بی‌توجهی اوباما به اصرار کرزی برای کاهش حملات امریکا در افغانستان

صفحه سوم

افغانستان او پردې تپل شوې کاپیگانې

دریم مخ

سفر تعادل‌شکنِ اوباما به آسیا

صفحه دوم

کاناډا: که په افغانستان کې اداري فساد دوام وکړي، مرسته ورسره نه کوو

دآزادی رادیو:
د کاناډا صدراعظم خبرداري ورکړ، که په افغانستان کې داداري فساد مخه ونه نیول شي، کاناډا به دافغانستان حکومت ته ډېره کمه مرسته هم ورنه کړي. ده دافغانستان دحکومت ددې غوښتنې په ځواب کې چې په سلو کې پنځوس مرستې دې مستقیماً ورو سپارل شي، وویل: "موږ به دافغانستان حکومت ته حتی لس سینټه هم ورنه کړو مگر دا چې باوري شو، چې پیسې به هغه

پاتې ٤ مخ

نیویارک ټایمز:

جنرال پتریوس په کندهار کې په زرگونو کورونه والوزول



خبري رسنی:
امریکايي ورځپاڼه (اکسیس أف لاجیک) د نیویارک ټایمز په حواله لیکي چې امریکايي ځواکونو په کندهار کې په زرگونو کورونه په بمونو او توغندیو والوزول.
ورځپاڼه لیکي چې : پنتاگون په افغانستان کې دویتنام تجربه بیا تکراروي. څلوېښت کاله وړاندې پنتاگون په ویتنام کې په دې پلمه چې د ویتنام خلک خوندي کوي، د ویتنامي بزگرانو پر کورونه او کلیو د ناپالم بمونه اوروول او له خاورو سره یې سمول. اوس د اوباما په اداره کې جنرال پتریوس په دې نامه چې دافغانستان خلک ژغوري اود هغوی زړونه ترلاسه کوي، په ارغنداب او ژېړي کې په زرگونو کورونه په توغندیو والوزول.

پاتې ٤ مخ

واشنگټن پوسټ:

افغانان ندي پوه چې امریکایان څه کوي

دامریکا غږ:
دامریکا مشهورې ورځپانی واشنگټن پوست دنومبر دشلمې نیټې په گڼه کې لیکلي دي چې په افغانستان کې دامریکایانو ستر مشکل دا دی چې دوی تر اوسه افغانان په دی سم نه دې پوه کړي چې امریکایان څه دپاره افغانستان کې پراته دي. واشنگټن پوسټ دپولسټر په نوم دیوې اداري لخوا تیاري شوې سروې په اساس وایی چې په هلمند او قندهار کی سلو کی اتیا کسان په دې خبر دی چې کال ۲۰۰۱ کی دستمبر په یولسمه نیټه امریکا کی څه شوی وو.
واشنگټن پوسټ لیکی چی دسروې نه دا هم معلومیږی چی دافغانستان دپښتنو په اکثریتی سیمو کی خلک په دی قانع نه دی چی گنی امریکایان دطالبانو نه بهتره حالت راوستئ شی او دا گني چې امریکایان ددوی عنعنو ته درناوئ نه کوي او نه ورنه دخیر کومه تمه

پاتې ٤ مخ

سپېڅلې — د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

د افغان مسئلې د حل لار کومه ده؟

له څه مودې راهیسې د افغانستان د مسئلې د حل په لارو چارو په داخل او خارج کې غونډې او کانفرانسونه جوړېږي او کوښښ کیږي چې روان کړکېچ ته سوله ییزه لاره پیدا کړي خو د افغانستان مسئله دومره پیچلې مسئله شوه چې اوس ددې جرړې سر نه پیدا کیږي.

حقیقت دا دی چې د افغانستان د مسئلې په حل کې نه نړۍ واله ټولنه او نه هم افغان دولت په ریښتونی توګه ګامونه اخلي.

نړۍ واله ټولنه هم دلته خپل اهداف لري چې لا به نه وي ترسره شوي او په افغان دولت کې هم داسې کړۍ شتون لري چې په یو باثباته افغانستان کې خپلې ګټې په خطر کې ګڼي.

له بله پلوه د سولې د راوستو له پاره چې کومې هسې د افغان دولت له لورې پیل شوي داسې ګمان کیږي چې نړۍ واله ټولنه ورسره همغږي نه لري ځکه افغان دولت د سولې شوری جوړه کړه چې د مخالفینو سره د خبرو له لارې جنګ ته د پای ټکی کیږدي. خو ترڅنګ یې ناټو جنګ ته بلهې وهلي هره ورځ د لسګونو افغانانو د وژل کېدو خبر ورکوي او ادعا کوي چې وژل شوي افراد د دولت مخالفین دي، اول خو دا خبره سپیناوی غواړي چې آیا ریښتیا هم دا ټول وژل شوي افغانان طالبان وو او که هر افغان دوی ترهګر ګڼي.

که ریښتیا هم د نړۍ والو ځواکونو خبره سمه وي چې هره ورځ دوی د دولت مخالفین وژني نو بیا خو داسې ښکاري چې د مخالفینو شمیر له هغه زیات دي چې دوی یې اټکل کوي.

او دا حقیقت هم باید ومنو چې ددوی په بې رحمانه وژنو کې یواځې بې ګناه افغانان وژل کیږي، هغه افغانان چې په خپلو کلو او بانډو کې په کروندو او یا په نورو چارو بوخت دي. او که چېرې ریښتیا هم وژل شوي و ګړي مخالفین وي او ددوی په وړاندې مقاومت کوي نو بیا دا خبره هم د پوره غور وړ ده چې دا څنګه مقاومت دی چې پدې نهه کلو کې یې د دومره یو ځواکمن ځواک په وړاندې نه له منځه ولاړ او نه کمزورې شو بلکې ورځ تر بلې مقاومت غښتلی کیږي او له غرو سمې او لویو ښارو ته راورسېد چې دولت او نړۍ واله ټولنه یې د یو بستر ګواښ سره مخ کړې، پښتانه وایي چې په زور کلي نه کیږي زور خو همدومره وه چې وشو هر ډول وسله و کارول شوه او وازمایل شوه، خو جنګ لا پراخ او مر ګونی شو، تاریخ ثابته کړې چې افغانان د پردو پر وړاندې په زور نه ایل کیږي، نو پداسې وخت کې د سولې او خبرو اترو پر ته بله کومه ښه او معقوله لاره ده؟

سیاسي شنونکي پدې اند دي چې د مخالفینو په وړاندې جنګونه او بمباری پداسې حال کې چې د دولت له لوري د سولې هڅې ګړندۍ شوی څه مانا لري.

دا هم ویل کیږي چې پدې بمباریو او وژنو کې اکثره وژل شوي طالبان هغه څوک دي چې غوښتل یې د سولې له پروسې ملاتړ و کړي، دا وژني شعوري وژني دي چې د سولې د پروسې د شنډولو یوه هڅه ګڼل کیږي ګنی نړۍ وال ځواکونه کولې شي چې دوی ژوندي ونیسي. لومړی خو وژنه چې له هرې لورې وي یو ناوړه کار دی او د افغانستان د ستونزې په حل کې مرسته نه شي کولای که دا کار طالبان هم کوي او ملي پولیس او ملي اردو وژني خو افغانان وژني او د غم په ټغر بیا هم افغانان کیني او ستونزې په حل کې نه یواځې دا چې مرسته نه کوي بلکې د جګړې اور لا پراخوي.

د جګړې دواړه لورې افغانان دي که هغه مخالفین دي او که د دولت قواوې که هر لورې بل ته د زیاتې مرګ ژوبلې دارونې دعوه کوي او پرې ویاړي نو دا د ویاړ خبره نه ده بلکې هڅه دې وشي چې ددې اور لمن راغونډه شي او دا باید ومنو چې د افغانستان د ستونزې حل په فوځي لار او وژنو کې نه بلکې په سوله کې ده. نو راځئ چې پدې فکر وکړو چې د سولې په راوستو کې له کومو لارو چارو کار واخلو چې ددې مظلومو افغانانو وژنو ته د پای ټکی کېږدو.

تحلیلی از کلید گروپ

سفر تعادل‌شکنِ اوباما به آسیا

سفر اوباما به منطقه تا حدی تعادل گذشته را برهم خواهد زد و بعد از این امریکایی‌ها از هر حرکت پاکستان برای حمایت از جنگجویان کشمیری انتقاد خواهند کرد و پاکستان جز این که از طریق دوستان خود در حاکمیت افغانستان و همچنان طالبان و القاعده برای کم کردن نفوذ هند در افغانستان تلاش کند، راهی دیگری نخواهد داشت. از این رو، ناگزیر است بر حمایت خود از جناح‌های مختلف طالبان و جنگجویان کشمیری بافزاید.

از سی سال به این سو، افغانستان با این که محل تقاطع رقابت ها، تضادها و هماهنگی‌های جهانی بوده، برای کشورهای منطقه نیز همچو موقعیتی داشته است.

روابط و مناسبات کشورهای منطقه از روی این که با افغانستان در چه روابطی قرار دارند، مشخص شده، چیزی که تا هنوز ادامه دارد و روز تا روز این گره محکم تر و پیچیده تر می‌شود.

حال که نیروی ۱۵۰ هزار نفری ناتو که بیش از ۱۲۰ هزار تن آنان را سربازان ایالات متحده تشکیل می دهند، در افغانستان حضور دارند و سرگرم نبرد خونینی با نیروهای طالبان و القاعده اند، سیاست گذاری‌های ایالات متحده در این منطقه به نحوی با حضور آن در افغانستان پیوند دارد و نمی‌توان با هر گامی که امریکا در این منطقه می گذارد، اثرات مرئی و نا مرئی آن را به زودی و یا میان مدت در افغانستان احساس نکرد.

سفر اخیر بارک اوباما، رییس جُمهور امریکا، به هندوستان نیز جزئی از این مقوله است که هرچه روابط ایالات متحده با امریکا نزدیک و نزدیک تر گردد به همان اندازه، اثرات آن را بر روابط افغانستان با هندوستان می‌توان احساس کرد.

همین اکنون در افغانستان ۴۵۰۰ نفر هندی مصروف کار اند که بیشتر آنان در عرصه‌های باز سازی و انجام خدمات مدیریتی سرگرم کار می‌باشند.

حضورهندی‌ها در افغانستان برای پاکستانی‌ها که دشمنی دیرین با هندی‌ها بر مسئلهٔ کشمیر دارند و از زمان ایجاد تا حال، سه جنگ بسیار خونین را با یکدیگر پشت سر گذاشته و این کشور با افغانستان ۲۴۳۰ کیلومتر مرز مشترک دارد، بسیار با اهمیت بوده و تلاش دارد تا با هر شیوه‌ای، حضور هندی‌ها را در افغانستان کمرنگ بسازند.

به این خاطر پاکستانی‌ها دیدار اخیر اوباما را با دقت و چهارچشمی در دهلی زیر نظر دارند و مخصوصاً اثرات آن را در محل گره گاه تضادهای منطقه‌ای (افغانستان) ارزیابی می کنند. چون می‌دانند که با نزدیک شدن هرچه بیشتر هند با امریکا، زمینهٔ حضور بیشتر هندی‌ها را در افغانستان مساعد می‌سازد.

از این که اوباما در این سفر ده روزه که از چهار کشوردیدار می کند، اما پاکستان در لیست این دیدار جا ندارد، تا حدی دلخور می‌باشد.

اوباما با ورود به دهلی، از هوتل تاج محل دیدار کرد.

این هوتل که سال گذشته مورد حملهٔ تروریستان بنیادگرا قرار گرفت و نفر دستگیر شده، اهل پاکستان و وابسته به لشکر طیبهٔ پاکستان بود و اوباما از سران دولت هند خواست که با تروریزم، مبارزه مشترک

داشته باشیم، نمی توانست برای پاکستانی‌ها خوشایند باشد، زیرا تمام دنیا به این باور است که دُمِ هر حادثهٔ تروریستی بالآخره زیر پای پاکستان قرار دارد.

اعلان همکاری مشترک میان هند و امریکا در حقیقت جورآمد امریکا با دشمن دیرین و درجه یک پاکستان می‌باشد.

هراس پاکستانی‌ها همیشه این بوده که روزی افغانستان و هند، دو کشوری که در شمال و جنوب در حقیقت مرزهای اصلی پاکستان را می‌سازند، باهم در توافق سیاسی و نظامی قرار نگیرند که در آن وقت، جنگیدن در برابر دو جبهه برایش مشکل خواهد شد.

حال که امریکا با حضور قوی در افغانستان در تمام زمینه‌ها حرف اول را می زند، این خوش و بُش امریکا با دهلی جدید که به ارزش ده ملیارد دالَر قرارداد های تجاری میان دو کشور انعقاد یافت، می‌تواند برای پاکستان خبر تکان‌دهنده و ترسناکی باشد و با این نزدیکی، امریکایی‌ها زمینهٔ جذب نیرو های بیشتر هندی در افغانستان را مساعد سازند؛ مخصوصاً که در افغانستان ذهنیت همگان بر ناپاکی سیاست پاکستان و پاکی سیاست هند در افغانستان دور می‌خورد.

هندوستان که اکنون از جمله ۲۰ کشور اقتصاد برتر جهان به حساب می‌آید، نمی تواند به عنوان کشور مهم در سیاست ها و سرمایه گذاری‌های امریکا جای خاصی نداشته باشد، مخصوصاً که شرکت‌های سلاح‌سازی امریکا به عنوان قوی ترین سیاست گذارهای اقتصادی امریکا، اشتیاق دستیابی به بازار تسلیحاتی هند را دارند؛ بازاری که اکنون در انحصار فدراتیف روسیه قرار دارد.

به این خاطر سفر اوباما به منطقه تا حدی تعادل گذشته را برهم خواهد زد و بعد از این امریکایی‌ها از هر حرکت پاکستان برای حمایت از جنگجویان کشمیری انتقاد خواهند کرد و پاکستان جز اینکه از طریق دوستان خود در حاکمیت افغانستان و همچنان طالبان والقاعده برای کم کردن نفوذ هند در افغانستان تلاش کند، راهی نخواهد داشت. به این خاطر بر حمایت خود از جناح‌های مختلف طالبان و جنگجویان کشمیری خواهند افزود.

پاکستان تا حال در کارهایی که هند در افغانستان به سر می‌رساند، تا توان داشته اخلال کرده است.

اما این سفر اوباما مطمئناً که تا حدی تغییرات تازه ای در نگرش‌های پاکستان نسبت به این منطقه و منافع خاصش که باید پامال نشود، مخصوصاً در افغانستان و کشمیر به وجود خواهد آورد.

افغانستان د نړۍ والو رسنیو په هنداره کې

نړیوالو ورځپاڼو یو ځل بیا له افغانستان څخه د نړیوالو ځواکونو وتلو ته اشاره کړې ده، چې ورځپاڼې د امریکا دولسمشر له قوله لیکلي: دا د دې معنی نه ده چې موږ به افغانستان پریږدو.

واشنګټن پوسټ:

واشنګټن پوسټ افغان ځواکونو ته د امنیت د مسولیت سپارلو په اړه په خپله وروستۍ ګڼه کې تبصره کړې ده، چې په یوه برخه کې یې راغلي، جمهور ریس بارک اوباما د شنبې په ورځ په ډېر اطمینان وویل، چې د عسکرو د وتلو پروسه به د راتلونکي کال د جولای په میاشت کې پیل شي.

ده زیاته کړه، چې د جګړې د سیمې له نږدې څارنه د افغانستان په جګړه کې پرمختګ څرګندوي.

ولسمشر اوباما وویل، چې له تیر یوه کال سره په مقایسه اوس دوی په ښه حالت کې دي.

ټاکل شوې ده، چې سپینه ماڼۍ راتلونکې میاشت د افغانستان د جګړې د ستراتیژۍ بررسي پیل کړي.

د جمهور ریس اوباما په وینا، په افغانستان کې د ناټو او امریکایي ځواکونو عمومي قوماندان جنرال ډیویډ پټرویس د هغو سیمو نقشې او پلانونه جوړوي، چې وضعیت یې ښه دې او کیدای شي چې ځواکونه خیني وایستل شي.

واشنګټن پوسټ لیکي، د امنیت د مسولیت د انتقال پریکړه په ناټو پورې تړلې ده خو د تصویب او اعلان لپاره به ولسمشر کرزي ته وړاندې شي.

چارواکو تاید کړې، چې د امنیتي مسولیتونو انتقال له افغانستان څخه د وتلو په معنی نه ده ځکه نړیوال ځواکونه به له یوې سیمې تر وتلو وروسته په بلې سیمې کې ځای پرځای کیږي.

خو په عمومي ډول، هر هیواد به له افغانستان څخه د خپلو عسکرو د ایستلو لپاره ځانګړې پریکړه کوي.

ورځپاڼه لیکي، جمهور ریس اوباما د دې سوال په ځواب کې چې تر ۲۰۱۴ کال وروسته په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو حضور ته اړتیا شته او که نه وویل، زما لمړی او تر ټولو مهمه دنده د امریکا د خلکو لپاره امنیت دی، نو هغه کار به کوم چې اړتیا یې ده.

ډیلي ټلیګراف:

د ډیلي ټلیګراف ورځپاڼې په خپله وروستۍ ګڼه کې د افغانستان لپاره د ناټو د ملکي استازي مارک سېډول تازه خبرې راخیستي دي، چې وایي، افغانستان د کوچنیانو لپاره تر لندن او نیویارک د ژوند امن ځای دی.

د ماشومانو لپاره د بي. بي. سي ټلویزیون له یوې خپرونې سره په مرکه کې د مارک سېډول دا خبرې په افغانستان او بهر کې د ماشومانو د حقونو د ملاتړ ادارو رد کړې دي.

امریکایي تګلاره تروریزم ته لاره

(ن. صمد)

د سپتمبر تر حملې راوروسته د "تروریزم" او "تروریستانو" کلمې د واشنګټن یو جنون او وسواس ګرځېدلی دی چې په هغه سره خپله بهرنی تګلاره مخته وړي او امریکایان یې د هغه مریان کړي دي . د دې قصدی بیری په خپرولو سره واشنګټن په هغو کوچنیو او کمزوره هېوادو کی تشدد ایجادوی چې غیر اروپایان پکښی میشته دي.

وګورئ واشنګټن په تیرو نهو کالو کی دوه تریلیونه ډالره ضایع کړل ، شپږ زره پوځیان یې ووژل شول ، نړیوال شهرت او عزت یې خراب شو ، یو ملیون ملکی انسانان یې ووژل خو بیا هم نه بن لادن ونیول شو ، نه یې دښمنان لږ شول ، نه د ورځی آرام او د شپې قرار لری ، او تر ټولو مهم لا دا چې د "ترور" او "تروریستانو" پر ضد یې جنګ هم هماغسی جاری دی او برئ یې نه تر سترګو کیږی.

وګورئ د سپتمبر تر حملې راوروسته د پنتاګون بودجه ۶۷٪ زیاته شوې ده ، دا ولی ؟ یو څو په ساده وسلو مجهز غیر منظم ، بې هېواده ، بې کوره ، بې غمخوره ، بې سرپناه او مغاره نشین "تروریستان" ! یې په خپلو زرګونو خورا مجهزو او عصری وسلو سمبال پوځونو سره هم په دغو نهو کالو کی ختم نکړای شول.

اساسی ټکی دا دی چې نن د واشنګټن "تروریستی ضد" تګلاره دوه اړخونه لری چې لومړنی یې عام او دوهم یې نهام دی . عام یا ښکاره یې دا دی چې وایی موږ امریکا د "تروریستانو" ! ځخه ساتو . خو پټ اړخ یې دا دی چې د سپتمبر د حملې ځخه په استفاده یې اول افغانستان ونیوئ چې د هغه په اشغال سره یې جیو ستراتیژیکی مرکزی آسیا تر خپل هژموني (تسلط) لاندې راوړه او د بلې خوا یې هم پر ټول نفت لرونکي منځني ختیځ خصوصاً فارس خلیج باندی خپه واچوله . دا هغه ارمان و چې د شوروی د ژوندون پر مهال یې د ورځی د هغه خوب لیده.

کله چې شوروی اتحاد ونړېد او مړ شو ، نو امریکا د افغان جهاد له برکته د نړی یوازینی لوی طاقت شو . واشنګټن د پورتني آرمان او هوس د تحقق په لټه کی و چې نابېره د سپتمبر د یوولسمی تروریستی حمله پېښه شوه . دا چې هغه چا وکړه ، واشنګټن تر نه هیچا ته هم اسناد او شواهد نه دي وړاندی کړي بلکی ډېر ژر یې د اسامه بن لادن دروازه وټکوله . دغی تروریستی حملې په منځني ختیځ کی د امریکا د پنځو کړنو او ستراتیژیو ځخه نشأت وکړ چې هغه دا دي:

لومړی ـ د منځني ختیځ پر تیلو خپه اچول (یعنی په خورا ارزانه بیه خنی وړل)؛

دوهم ـ د نومړو هېوادو د ظالمو رژیمونو مسلط ساتل او د هغوی پر بې رحمیو سترګې پټول؛

دریم ـ په عربی هېوادو خصوصاً مقدسو اماکنو کی د امریکایی پوځیانو چتی استقرار؛

څلورم ـ د خلیج تر جګړې وروسته پر عراق ظالمانه بندیزونه او د نیم ملیون کوچنیانو له منځه تلل؛

پنځم ـ د فلسطینیانو پر ضد د اسراییلی دولت ځخه ننګه او پر هغوی د تل ابیب وحشیانه ظلمونه؛

خو امریکا هیڅکله هم نه ویلی او نه منلي دي چې د سپتمبر حمله د نومړو عواملو نتیجه ده . لاکن د واشنګټن بهرنی تګلارې په منځني ختیځ کی د امریکا پر ضد داسی شرایط ایجاد کړل چې د بطن ځخه یې "تروریستان" !، "افراطیان" ! او "انتحاریان" ! تولید شول.

خو لکه چې ومو لیدل ، د "ترور پر ضد د جنګ" له برکته امریکا د درو بلاوو په غېږ ورغلې ده چې هغه : الف ـ اخلاقی او روحي خوړتیا ، ب ـ سیاسی او پوځی زوال ، او باالاخره ، ج ـ مالی او اقتصادی سقوط دی چې خلاصون او بیا رغاونه یې مشکل حتی ناشونی ښکاری.

وګورئ ، کله چې د سپتمبر حمله وشوه ، نو امریکایانو به پوښتل چې هغوی) یعنی مسلمانان (ولی زموږ ځخه دومره کرکه لری ؟ واکمو به ویل چې موږ ډېر ښه خلک یو (یعنی هغوی بد خلک دي) او موږ ګواکی په نړۍ کی آزادي خپروو . مګر صادقو امریکایانو به ورته ویل چې یا ، دا هر څه زموږ د عمل عکس العمل دی.

مهمه دا ده چې تروریزم یو نوی شی نه دی . هغه د روسي تزار پر ضد ، د اطریشی ـ هنګري سلطنت پر ضد ، په فلسطین کی د یهودانو لخوا د برتانوي واک پر ضد استعمال شوی دی . حتی پر عراق تر حملې مخکی د نړۍ مشهور انتحاری حمله کونکي "تامیلی پړانګان" وو چې د سریلانکا د حکومت پر ضد یې حملې کولی . آیا دغو ټولو په دې خاطر حملې کولې چې مقابل طرف ډېر ښه خلک وو ؟ یا دا چې په نړۍ کی یې آزادي خپروله ؟ او که یې برعکس پخپله آزادي سلب کوله ؟ د امریکا د شیکاګو د پوهنتون مشهور پروفیسور (رابرټ پیپ) د نورو پرفیسورانو (لیندزی اوورک ، جینا مک ډرمیټ) په ګډون لاندینی نتیجې ته رسېدلی دی : "تر هغه ځایه چې موږ په لبنان ، لویدیځه ټړه ، عراق ، افغانستان ، سریلانکا او نورو برخو کی د خپلی څېړنی ځخه معلومه کړه ، انتحاری تروریستی عملیات تقریباً ټول د بهرنی پوځی اشغال پر ضد دي ."

دا لا څه ، په افغانستان کی د امریکایی پوځ معزول قوماندان جنرال مک کریسټل داسی اعتراف وکړ : "موږ ګڼ شمېر خلک ویشتلي او یو شمېر مو هم وژلي دي او زما د معلوماتو له مخی هغوی یو لا هم زموږ څواک ته رښتیانی تهدید نه و. " ښه ، آیا نن هر څه د عمل عکس العمل نه دی ؟ او تروریزم په تروریزم سره نه دفع کیږی ؟

فیصل شهزاد په محکمه کی قاضی ته داسی وویل : "زه د هغه امریکایی تروریزم څواب یم چې په اسلامی هېوادو کی یې مخته وړي او مسلمانان وژني . » نجیب الله ځاځي هم قاضی ته داسی وویل : "زه به ځان قربان کړم تر څو وښیم چې امریکایی پوځ په افغانستان کی د ملکی خلکو سره همدغسی کار کوي . زما د روح قربانول به د نورو د ژوندانه د ژغورلو په خاطر وی. " نو آیا اوس هم څه شک شته چې دا هر څه د امریکا د آزادۍ پر ضد نه بلکی د پالیسۍ پر ضد غبرګون دی ؟ نو آیا نشو ویلای چې پر امریکا په دې غرض حملې نه کیږی "لکه څنګه چې دوی دي " بلکی ځکه پر کیږی "لکه څنګه چې یې دوی کوی. "

هو ، د سپتمبر یوولسمی دا ثابته کړه چې امریکا نوره ژغورلې نه ده ، او واشنګټن ته باید نور نو ثابته شوې وی چې نشي کولای پر نورو هېوادو یرغل او بم وري وکړي ببله دې چې نتیجه یې و نه ګوري . نو ښه به دا وی چې تګلارې جوړونکي او د واکمنو سلاکاران مخکی تر دې چې دغسی یرغلیزه او متشدده ستراتیژي جوړه کړي ، باید قیمت او پس لګد یې ښه مطالعه کړي . که امریکا د نړۍ د کړې بلی خوا ته اور او بم وري وړي نو له هغې خوا به هم کټ مټ اور او تشدد پر امریکا باندی لوریږی ، او همدا تریخ حقیقت د امریکا ځخه د نفرت او کرکی اصلی ریښه او مایه ده . نو آیا نشو ویلای چې نولس حمله کونکي ځکه هلته ورغلي وو چې امریکایان دلته راغلي وو ؟

استاد محمد زمان مزمل

افغانستان او پردی تپل شوې کاپیګانې

نیمه پیړی مخکې چې دروسیې داستعماري انکشاف لړی دافغانستان په شمالي پولې باندې، دشوروي په عنوان په نړی کې دیوه دویم لوی قدرت په توګه حضور پیدا کړ هغه زمونږ دافغانانو شمالي ګاونډی شو، همداسې په شپاړسمه پیړی کې هغه ته راغلي پرنګیان په تدریج په ټول هندوستان باندې قابض شول او بیا یې د نژدې هند نه پر افغانستان تیری وکړ او د اویا کلونو مقاومت او جنګ وروسته بیاهم پرنګیانو د افغانستان استقلال تسلیم کړ ولې دنړی دغه تر ټولو ستر ځواک هغه مهال زمونږ دسویل او شرق ګاونډي و.

په داسې شرائطو کې چې دپرنګیانو ځای په نړی کې امریکا ونیوه او نړی ددغو دوو لویو ځواکونو دسیالیو نه په یوه درنه بې ثباتي کې کیوتله، افغانستان دیوه نوي آزاد شوي هیواد په توګه دهغه څپو په منځ کې خپل ځان دامریکا د بې میلی له کبله دشوروي دولت له ګټو سره هم غږی کړ.

که څه هم دهغه وخت ددغه سیاست مبتکر سیاستمدار سردار محمد داود ددغسی تهمت دلرې کولو په موخه یو مهال دخپل سیاست په هکله په رمزي ډول ویلي و چې:زه غواړم چې امریکایي سیګرټ په روسي اور لګیت ولګوم، ولې هغه مهال نسبي توازن با وجود بیا هم هیواد دروسي یا شوروي کولو دسیاسي پروسس په توند مسیر کې روان و. رښتیا دجمهوریت په دوران کې سردار محمد داود خان د افغانستان دشوروي په خوا او یو طرفه کیوتلو سرعت او خطر ته په ژوره توګه متوجه شو، ولې فرصت بایلونکی سردار په چاره او تدبیر کې دهغه سطحي ابتکارونو ښکار شو چې پای پکې سردار خوار کې سر وخوړ او افغانستان ته دستالین دشوروي کولو هغه بدغونی وحشت ننووت چې له دې مخکې یې دچیچین نه تر عشق آباد پورې هرڅه پرمخ چپه کړي وو.

د ثور دکودتا په بري شوروي او خپله افغاني کمونستانو دغه هیواد ته دشوروي دنظام بشپړه کاپي انتقال کړه او داسې دخپل ملت سره په جګړه او ټکر کې ولویدل چې د دوو کلونو وروسته هغوی په ملت کې د اوسیدو ځای ورک کړ او پای په لړې ولایتونو کې خلقي اوسیدونکي کورونه کابل ته راوتښتیدل اوترنن پورې دکابل په زورآبادونو کې مسافر او سپیره ژوند لري.

داسې دخلق او پرچم لویو معلمانو پخپلو جګړو کې سر وخوړ او پای دهغوی پاتو شونی په پاتو پنځو کلونو کې دومره په شا ولاړل، چې ډاکتر نجیب پکې په مکه کې د هغې ګډې ناستې وړاندیز وکړ چې اته کاله مخکې پکې سردار داود خان په همدې موخه سر وخوړ چې هغه دشوروي د واکمنانو دخاطر خلاف د پاچا خالد دمرستو وعدو ترحد زیات خوشحاله کړی و نن چې له نړی شوروي ولاړ او په افغانستان کې دهغه مهال سرې او نظام نن په دې هیواد کې دامپراالیزم اشغالګرانو دپرونی تجربې هغه مقابل نهایي لوری نیولی او دلته غواړي دیو تعداد کم عقلو افغانانو په ذریعه دبل بیګانه نظام کاپي پلې کړي، ولې ددې غیر علمي هڅې انجام هم په دې هیواد کې هماغه دی چې شوروي اتحاد او دهغه پالل شویو ډلو یې مزه ولیدله ځکه جګړې او ټکرونه یې تر هغوی قوی دي، داهم په داسې حال کې چې بهرني حامي دځلوېښتو دولتونو په شمیره ولاړدي.

ولی په دې هیواد کې چې دبیګانه و فزیکي حضور نه زغمل کیږی کم ظرفه افغانان دپردیو د راضي کولو په خاطر بیګانه ارزښتونه او طرحې پکې په داسې ډول پلې کوي چې خپله بیګانه ګان یې په خپلو هیوادونو هغسې نشي پلې کولای؟

دهمدې ځایه په دې هیواد کې داسې شتمنې کورنی راوټو کیدې چې په امریکا کې دغه مزل دبوش یا هم د جان کیري کورنیو په دوه سوه کلونو کې تر هغه ځایه رسولی چې دوی پکې واقع دي.

په دی بدغونی جریان او ماجراء باندی یو تکرار او ژور نظر له انسان سره دا اندیښنې پیدا کوي چې افغانان ولې پخپل ملت باندې دمعاملو په بدل کې هغه څه تکرار تیې چې دتپلو زمینې یې هم نه لیدل کیږي.

بیا هم که په دې هیواد کې دخرڅ شویوسړیو په ذهن کې د طرحو او مفکورو افلاس او قحطي دا هیواد همیشه دنورو نه دقرض په دروازه درولی نو ولې هغوی پکې دتدریج له مخې هغه د سردار پتمن اسلوب نه کاروي چې هغوی پردی طرحې پخپلو کې د سردار په دود مکس کړې او امریکایي سیګرټ د دیوه بل هیواد په ماچس ولګوي.

راوړل شوې امریکایي کاپي په دې هیواد کې دغریبې اکثر میشتې طبقې او دګوتو دشمیرسرمایه دارې طبقې په منځ کې داسې خطر ناک واټن جوړ کړی که دتیر شوروي په ځای چین پنځه کاله وروسته له دې اوضاع نه دیوه بل کمونستي نظام په ګټه کار واخلي نو داخل به ډېری افغانان هغه څه پخپل ځای وکړي چې پرون پکې دترکې خلقیانو دسرمایه دارو په ځای دپرګنو قومي شریف مشران په بوجیو کې واچول او په زمکه کې یې خښ کړل.

له اصلاح آنلاین نه په مننه

بی‌توجهی اوباما به اصرار کرزی برای کاهش حملات امریکا در افغانستان

خبر گزاري فارس:

رئیس جمهور امریکا در نشست اخیر سران کشورهاي عضو سازمان پیمان اتلانتیک شمالی در لیزبن، درخواست هاي افغانستان مبني بر کاهش و در نهایت توقف عملیات نظامي در این کشور را نادیده گرفت.

به نقل از روزنامه امریکایي "وال‌استریت ژورنال "، رؤساي جمهور امریکا و افغانستان و هم‌پیمانان امریکا بر سر موضوع نحوه پیگیري جنگ افغانستان که در نشست ائتلافي آخر هفته مطرح شد با یکدیگر اختلاف نظر دارند.

بعد از نشست لیزبن و پس از اینکه رهبران سازمان پیمان اتلانتیک شمالي، طرح واگذاري مسئولیت هاي امنیتي افغانستان در سراسر کشور را به نیروهاي افغان طي چهار سال آینده به امضا رساندند، مشخص شد که رؤساي جمهوري امریکا و افغانستان و هم‌پیمانان امریکا بر سر موضوع نحوه ادامه جنگ افغانستان که در نشست ائتلافي آخر هفته مطرح شد با هم اختلاف نظر دارند و "باراک اوباما " رئیس جمهور امریکا درخواست افغانستان را براي توقف حملات هوايي در این کشور نپذیرفت و خطاب به "حامد کرزي " رئیس جمهور افغانستان گفت که او باید منافع امریکا را نیز در نظر بگیرد.

بنا بر این گزارش، طالبان روز گذشته از تصمیم نشست لیزبن مبني بر خروج اکثریت نیروهاي بین‌المللي از افغانستان تا اواخر سال ۲۰۱۴ میلادي استقبال کرد و این اقدام را نشانه شکست امریکا در افغانستان عنوان کرد.

دولت اوباما نیز در نشست ناتو در لیزبن بر خروج سریع تر نظامیان امریکایي از افغانستان تاکید و اعلام کرد: اعضاي این ائتلاف نباید عقب نشیني نیروهایشان را حتي یک روز به تاخیر بیندازد.

در این نشست که روسیه و امریکا براي انعقاد پیمان جدید استارت با یکدیگر اعلام رضایت کردند و ناتو نیز اعلام کرد که از تلاش امریکا براي تصویب این پیمان با مسکو پشتیباني خواهد کرد، حامد کرزي درخواست هاي مکرر خود را براي مهار و توقف عملیات نظامي هم‌پیمانان امریکا در افغانستان تکرار کرد.

طبق اعلام دفتر ریاست جمهوري افغانستان، کرزي در جلسه محرمانه ناتو کشتار و بازداشت غیرنظامیان را رفتار غیرقانوني برخي از گروه هاي امنیتي دانست.

در همین نشست ژنرال "دیوید پترائوس " فرمانده نیروهاي خارجي در افغانستان به افزایش عملیات یورشي علیه فرماندهان طالبان اشاره کرد.

"آنگلا مرکل " صدراعظم آلمان در نشست روزشنبه در لیزبن درباره درخواست هاي رئیس جمهوري افغانستان براي توقف عملیات نظامي در این کشور اعلام کرد: انتقاد کرزي از حضور نظامیان ناتو در افغانستان پشتیباني داخلي از جنگ در این کشور را در میان ملت هایي که نیروهاي خود را در افغانستان مستقر مي کنند، به خطر مي‌اندازد.

رئیس جمهور افغانستان در سخنراني روز شنبه خود در نشست لیزبن بر طرح خود مبني بر غیرقانوني جلوه دادن اقدامات امنیتي نیروهاي خارجي درافغانستان پافشاري کرد.

اوباما در گفت‌وگوي اخیر خود با کرزي اعلام کرد که فرستادن نیروهاي امدادرسان و غیرنظامي به مناطقي که تضمیني براي حفظ حیات آنها وجود ندارد نیاز به تفکر و برنامه‌ریزي دارد.

شهادت اوونیزه
خپروونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي ځانګه
د امتیاز څښتن: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله کامه وال
مرستیا ل مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)
داړیکې شمېره ۰۷۰۸۱۹۸۵۸۲
ډیزاین: خواجه وحیدالله
د کتنپلاوي تر څارنې لاندې
آدرس: دحزب اسلامي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه

ناټو د افغانستان د پارلماني ټاکنو ...

څرګنده نه ده چې دوی پرې څه کوي.
ویل شوي چې په ځانګړې توګه په شمالي ولایتونو کې د پښتنو، ازبکو او ترکمنو وکیلانو د شمیرې کمیدل حیرانونکې بلل شوي.
دغه راز د هرات په شینډنډ ولسوالی کې د پښتنو او د نیمروز په ولایت کې د بلوڅو د استازیتوب پر نشتوالي نیوکه شوې ده.
د شینډنډ شاوخوا ټولې پنځه ولسوالی دي چې د مساحت په لحاظ د افغانستان تر درویشتو نورو ولایتونو غټې مساحت دی او په سلو کې تر نوي ډیر وګړي یې پښتانه دي.
د غزني په ولایت کې هم پښتنو وکیلانو ځو کی نه دي ګټلي حال دا چې د دغه ولایت په ۱۸ کې دولس ولسوالی د پښتنو دي.
د انتخاباتو د لومړنیو نتایجو تر خپراوي وروسته ګڼ شمیر وکیلانو پرله پسې مظاهرې وکړې او نیوکې یې درلودې چې درغلی شوې دي.
د انتخاباتو د شکایتونو کمیسیون هم منلې چې ډیرې درغلی شوې دي.
داسې ویل کیږي چې ډیری افغان چارواکي اوس په دې باور دي چې باید دغه نتایج ونه منل شي.
خو تاند وبیاني سره په خبرو کې د سیاسي چارو شننونکو ویل چې د افغان حکومت لپاره تر ټولو غوره لار دا ده چې د ناټو رپوټ ولس ته وړاندې کړي.
په دغه ډول یو عمل سره به د ولسمشر کرزي حکومت ملامتي له خپلې غاړې واړوي او ولس به له حقایقو خبر شي چې په ټاکنو کې درغلی څومره جدي وې.

پر خپلو لوېدیځو متحدانو د کرزي ...

غوښتنه وکړه.د ده دې څرګندونو په افغانستان کې د ناټو او امریکایي ځواکونو قومندان نهیلی کړ او نورو لوېدیځو چارواکو پرې حیرانتیا ښکاره کړه.
جنرال ډیویډ پیټریوس افغان چارواکو ته یو ډول خبرداری ورکړاو ویې ویل، د امریکا د ستراتیژۍ په اړه د ولسمشرحامد کرزي وروستی څرګندونې د افغانستان په جګړو کې شویو پرمختګونو ته زیان رسوي او پخپله د ده دریځ له خطر سره مخامخ کوي.
جنرال پیټریوس تېره ورځ له ډاکټر اشرف غني احمدزي سره چې د مسولیتونو د انتقال په کار کې د افغان حکومت د پلاوي مشرې کوي، وکتل. کتونکو او څېړونکو داسې وانګېرله چې ګوندې جنرال پیټریوس د ولسمشر کرزي د وروستیو څرګندونو له کبله په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو دعملیاتو دوام ته زیات لیواله نه دی.
له ډاکټر اشرف غني احمدزي سره د جنرال پیټراییس په خبرو کې د دغه امریکایي جنرال هیلې منعکسې شوې دي او غواړي دا ډاډ حاصل کړي چې افغانان باید د جګړې سخت شرایط درک کړي.
په کابل کې یو بهرنی ډیپلومات په دې باور دی چې جنرال پیټراییس د استعفا خبره نده کړې خو د ولسمشر کرزي دا ډول څرګندونې او بیا په داسې حساسو شرایطو کې، نه یوازې د جنرال پیټراییس هلې ځلې تکنی کوي بلکې نړیوالو هڅو ته هم زیان

رسوي.
په افغانستان کې د ناټو ملکي مشرمارک سیډویل وویل چې د ولسمشر کرزي څرګندونې په تاوان دي.
سیډویل وویل: "ښکاره خبره ده چې دا ډول څرګندونې ګټه نه لري.زموږ نظرونه سره متفاوت دي، او دا طبیعي هم ده.ښه دا ده چې موږ پر خپلو متفاوتو نظرونو په شخصي غونډو کې خبرې وکړو او حل یې کړو."
خو د امریکا دفاع وزیر رابرټ ګېټس دا خبره رد کړه چې ګټې په افغانستان کې د جګړې د ستراتیژۍ پر سرد افغانستان د ولسمشر حامد کرزي وروستیو انتقادونو د کابل او واشنګټن ترمنځ نویو اختلافاتو ته لمن وهلې ده، خو دایې ومنله چې کرزی د دې نسبتاً اوږدې جګړې ترفشار لاندې دی.
رابرټ ګیټس وال ستریت ژورنال ورځپانې ته وویل چې د ده په نظر ولسمشر کرزی د افغانستان د ولسمشر په توګه خپله نارضایتي ښودلې. ګیټس په عین حال کې دا یادونه هم وکړه چې په افغانستان کې جګړه اوږده شوې او خلک یې له درو لسیزو راهیسې له جګړو کړېږي.
د امریکا د فاع وزیر وویل، کرزی لیواله دی چې امریکا په تدریجي ډول په افغانستان کې هغسې رول ولوبوي چې یووخت یې په ۱۹۵۰ او شپیتمو لسیزو کې په دې هیواد کې لوبولی و، په دی مانا چې کرزی غواړی امریکا په دې هیواد کې د پرمختګ پرچارو لکه د سړکونو جوړولواو د اوبولګولو د سیستمونو په رغولو ډیر تمرکز وکړي.
ګیټس وویل موږ د کرزي دغه غوښتنه درک کولای شو خو ستونزه دا ده چې موږ نه شو کولای چې په یوه شپه کې دې هدف ته ورسیږو.
ګیټس وویل د ده په باور کرزی په دې پوه دی چې کوم کارونه باید ترسره کړو څو افغانستان دې مرحلې ته ورسیږي.
دا لومړی ځل نه دی چې کرزی پر خپلو لوېدیځو متحدانو ورغوړځي. سږ کال په اګست کې پر امریکا له انتقادونو وروسته د ایران له ولسمشرسره څنګ په څنګ ودرېد .احمدي نژاد په کابل کې امریکا ته بد رد وویل او افغانستان یې اشغال شوی وباله.
په امریکا کې د سولې د انستیټوت کارپوه او شنونکی اندریوویلدر، چې څو لسیزې یې په افغانستان او پاکستان کې تېرې کړې دي،وایي: پر نړیوالې ټولنې.د کرزي د نیوکو هدف د ځینو کسانو په باور د افغانستان په حکومت کې پر فساد له انتقادونو پام په بله اړول دي.
دی وایي: "فکر کوم کرزی پوره ماهر دی او په دې پوهېږي چې له دا ډول خبرو څرنګه استفاده وکړي.دی په دې ډول له مهمو ستراتیژیکو مسایلو د خلکو پام په بله اړوي."
د ایران له لوري د کرزي دفتر ته د پیسو د کڅوړو له افشا کېدو وروسته کرزي یو لړ داسې اقدامات وکړل چې د خلکو پام یې په بله اړاوو .د پاچا خان د کنفرانس جوړېدا او پر خصوصي امنیتي کمپنیو بندیز په دې لړ کې ګڼل کېدای شي.
د ولسمشری د وروستی دورې په انتخاباتو کې کاندید عبدالله عبدالله ،چې له طالبانو سره د کرزي د سولې د هلوځلو کلک مخالف دی ، وایي : کرزی په دا ډول څرګندونو سره غواړي چې خپل سیاسي ژوند ته دوام ورکړي.دی غواړي چې ځان یو کلک ملتپال وښیي.خو د ده اصلي هدف دا دی چې په قدرت کې پاته شي .
عبدالله دا هم وویل چې د کرزي د خبرو یو هدف دا دی چې ځان یو ملتپال معرفي کړي او بل افغانانو ته وښیي چې پیاوړی دی.

د لیزبون په غونډه کې کرزی او ...

ناټو ځواکونو له افغانستانه د وتلو مهالوېش اعلاناوه، خوشاله ښکارېده.
دا خبره د فرانسي "لي فیګارو" ورځپانې د نومبر په دوه ویشتمه نېټه په خپله ویبپاڼه کې هم تایید کړې ده.
سرچینې دا هم وویل چې ولسمشرکرزي په ځانګړو ملاقاتونو کې دا خبره بیا بیا وکړه چې په افغانستان کې د بلوا د مخنیوي او ځپلو لپاره

د نړیوالو ځواکونو هلې ځلې بریالی نه دي او سره له دې چې ده له دوی څخه په ځلونو غوښتي چې د مشکل اصلي خالي یعنې د ډیورنډ کرښې هغې خوا ته توجه وکړي او خپل عملیات هماغه متمرکز کړي ، دوی دا کار ونه کړ نو دی د ناټو ځواکونو د هلوځلو پر بریالیتوب بې باوره شوی دی.

افغانان ندي پوه چې امریکایان ...

کیدای شي. ورځپانه واشنګټن پوسټ دجمهور رئیس حامد کرزي دهغې شکایت په باب هم لیکي چې وایي امریکایان باید خپل عملیات اصلاح کړي. واشنګټن پوسټ لیکي چې دا خبر یوازې دجمهور رئیس کرزی دخولې خبره نه ده بلکې امریکایان باید ډیر په دقت سره ورته غوږ ونیسی او دزړه په غوږونو یې واوري چې افغانان غواړي چې خپله خاوره خپل او خپل اختیار ولري.
واشنګټن پوسټ لیکي چې ناټو په جنوبی برخو کې دزړونو او ذهنونو دګټلو کوم کمپاین چې پیل کړیدی هغه ښه دې خو کافی نه دی او پکار دې چې په خپل کارونو کې نور هم تغیرات راولي. واشنګټن پوسټ ددغی سروې دمسولې نوراین میکډانلډ له قوله لیکي چې په سروی کې یو څه واقیعتونو په ګوته شویدی. او دا به دخبریالانو او بلکې دامریکا سیاستمدارانو کار هم اسانه کړي.
نوراین میکډانلډ چې په هلمند او قندهار کې یې پنځه کاله وخت تیر کړیدی، هغه وایي چې:
دا سروې یې په تیر اکتوبر کې کړیده او دی نه وړاندی یې په جون میاشت کې هم داسې سروې کړې وه. او دواړو سروې ګانو نه دا معلومه شوې چې تر اوسه افغانان دامریکایانو دراتګ په سبب نه پوهیږي او دپاتې کیدو په جواز یې هم قانع نه دي. واشنګټن پوسټ ورځپانه ددغې سروې په اساس وایي چې سلو کې نیم فکر کوي چې وروستي پوځي عملیات بې ضرورته وو. سلو کې ۵۸ وایي چې دخارجیانو سره کار کولو ناروا دی. سلو کې ۵۵ وایي چې باید ددوی په سیمه کې دطالبانو په ضد عملیات ونشي. او سلو کې ۷۲ وایي چې خارجیان ددوی دود دستور ته درناوی نه کوي .
واشنګټن پوسټ زیاتوی چې جمهور رئیس اوباما تیر کال دسمبر کې دافغانستان دپاره د ستراتیژی داعلانولو په وخت ویلی وو چې ایتلافی قواوی به طالبان دقندهار نه وباسی، هلته به یو بامسولیت حکومت راولي او په خوا شا سیمو کې به بغاوتونه وځپي. خو واشنګټن پوسټ بیا د دغې نوې سروې په اساس وایي چې ښاغلی اوباما چې دافغانستان دپاره کوم خوب لیدلی و هغه هغه شان تعبیر نه شو. سروې وایي چې سلو کې ۶۹ وایي چې ناټو ددوی دسر ساتنه نه کوی. ۵۱ وایي چې دناټو دعسکرو چلند ډیر ناسم دی. ۶۵ وایي چې دطالبانو نه زیات ملکي کسان دخارجیان په حملو کې وژل شویدی.
واشنګټن پوسټ ورځپانه زیاتوی چې په هلمند او کندهار کی دافغان پوځ او پولیسو په باب خلک یو څه ښه فکر کوي. خو دومره هم نه چې هر څه ورته وسپارل شي. دسروې له مخی سلو ۵۲ وایي افغان پوځ سم کار کوی، ۳۹ بیا دپولیسو نه خوشاله بریښي. خو کله چې د ټول واک د سپارلو خبره مخی ته راشي نو سلو کی ۶۱ وایي چې دا به سخت کار وي چې خارجیان ووځي او افغان پوځ هر څه کنټرول کړي شي. واشنګټن پوسټ ورځپانه ددی سروې دیوې مهمی برخی په باب وایي چې سلو کې ۸۱افغانان په هلمند او قندهار کی فکر کوی چې القاعده به بیا سر راپورته کوی او واک به ترلاسه کوی. او ۷۲ وایي چې القاعده به بیا دافغانستان خاوره دغرب خلاف حملو دپاره استعماله کړي.
واشنګټن پوسټ ددغې سروې دتیارونکی نوراین میکډانلډ دقوله لیکي چې اوس هم ډیر څه کیدای شی او دهلمند او قندهار دخلکو ملاتړ ترلاسه کیدای شی. دوی په دی قانع کیدای شي چې طالبان که ډیر هم ښه شي خو دوی ته دبهتره ایندې تظیمن نه شي ورکولای. هغه مثال ورکوی که چرې ټولو منطقو کی برق ورسولې شی نو خلک به دخارجیانو او طالبانو دوخت په فرق پوه شي. چې خارجیان رڼا او طالبان تیاره راولي. هغه بل وړاندیز دا کوی چې په دغو منطقو کې ډیر ځوانان دولور دپیسو دنه لرلو په وجه مجرد ګرځی او طالبانو سره یو ځای کیږی که چیرې امریکایان ورته دواده دپاره پیسې ورکړي نو دوی کیدای شي په خپل کور کې مصروف شي. نوراین میکډانلډ وایي چې دملکی کسانو دژوند ساتنه او په ژوند کې بهتری راوستل باید د نړیوالو قواو دپلانونو دسر ټکی ووسي.

بانکي مون:

نړیوالې مرستې باید دافغان حکومت له لارې ولګول شي

آزادی رادیو:
ولسمشر کرزي په پرتګال کې دناټو دغړیو هیوادونو دسرمشریزې دغونډې په پای کې دملګرو ملتونو دسازمان له عمومي منشي، دامریکا او روسیې له جمهوررو رییسانو او دبریتانیې له صدراعظم سره وکتل. دجمهوري ریاست مطبوعاتي دفتر خبر ورکړی، چې په دې لیدنو کې تر ډیره له دغو هېوادونو سره دافغانستان داړیکو پرلا ټینګښت او په دې هیواد کې دملګرو ملتونو سازمان درول پر پیاوړتیا ټینګارشوی.
دملګروملتونو عمومي منشي بان کي مون په افغانستان کې دسولې له هلوځلو ملاتړ کړی او ژمنه یې کړې چې هڅه به وکړي ترڅو نړیوالې مرستې تر ډیره ددې هیواد د ملي بودجې له لارې ولګول شي. دامریکا ولسمشربارک اوباما ویلي، چې ددواړو هیوادونو ترمنځ دستراتیژیک سند دبرابرولو لپاره به له دواړو هیوادونو څخه دکال ترپایه ګډه کاري ډله جوړه شي.
ولسمشر کرزی په لیزبن کې دناټوتړون دسرمشریزې په غونډه کې تر ګډون وروسته نن بیر ته کابل ته را ستون شو.

میزان خودکشی نظامیان ...

میزان خودکشي در ارتش امریکا به طور مداوم در طول مدت ۵ سال اخیر افزایش یافته است و این میزان بیش از میانګین خودکشی ملی در امریکا است که ۱. ۱۱ درصد در هر یکصد هزار نفر به ثبت رسیده است.
"اریک شینسکي" وزیر کهنه سربازان امریکایي اعلام کرد که رکود اقتصادي به وجود آمده در امریکا و آسیب‌هاي ناشي از جنګ‌هاي امریکا در عراق و افغانستان بسیاري از نظامیان این کشور را وادار کرده است تا خودکشي کنند.
بر اساس این ګزارش، تنها نام ۸ میلیون تن از کهنه‌سربازان امریکایي، هم‌اکنون در سازمان امور کهنه‌سربازان ثبت شده است و بسیاري از این کهنه‌سربازان به علت مشکلات رواني، بي‌خانماني، سوء مصرف مواد مخدر و مشروبات الکلي یا ارتکاب جرم در این وزارتخانه ثبت نشده‌اند.
تحقیقات همچنین نشان می دهد که خودکشي در میان جوانانی که ارتش را ترک می کنند، افزایش یافته است.
۲۰ درصد از ۳۰ هزار خودکشي در امریکا سالانه توسط کهنه‌سربازان امریکایي صورت مي ګیرد که این به این معنا است که به طور متوسط سالانه ۱۸ درصد از کهنه سربازان امریکایي خودکشي مي کنند.
این آمار حاکي از آن است که سال ګذشته ۳۰۹ تن از اعضاي ارتش امریکا مرتکب خودکشي شدند و این در حالي است که بر اساس همین آمار در سال ۲۰۰۸ حدود ۲۶۷ نفر از اعضاي ارتش امریکا خودکشي کردند و آمار خودکشي در بین سالهاي ۲۰۰۵ تا ۲۰۰۹ در میان نظامیان امریکایي یکهزار و ۱۰۰ نفر نفر بوده است که این آمار بیش از تعداد تلفات نظامیان امریکایي است که از سال ۲۰۰۱ تاکنون در سراسر افغانستان کشته شدند.

جنرال پتریوس په کندهار کې په ...

کله چې د افغانستان په جنوب لویدیځ کې لسګونو زره امریکایي سرتېرو عملیات ترسره کړل او د سیمي خلک له خپلو کورونو څخه وتښتېدل ، تر هغې وروسته جنرال پتریوس په خپله امر ورکړ، چې کوم کورونه باید وران شي.
د ارغنداب ولسوال شامحمد احمدي د نوامبر په ۱۶ مه نیویارک ټایمز ته ویلي، چې د ارغنداب په وروستیو عملیاتو کې امریکایي ځواکونو ۱۲۰ کوره ونړول. نیویارک ټایمز همدارنګه لیکي چې امریکایي ځواکونو د خانونو د خوندي کولو لپاره پر کورونه سربېره په ژیړي ولسوالي کې د ونو قطارونه له دې وېرې چې ښایي مخالفین ځانونه پکې پټ کړي له منځه یوړل اودخلکوپه زراعتي ځمکو کې یې د سړک غاړې بمونو له وېرې نوې لارې جوړې کړې.
د ورځپاڼې په وینا له یوې ډېرې خطر ناکې وسلې څخه چې د ورانولو لپاره کار اخیستل کیږي ، د (میکلیک) په نامه د ماینونو الوزولو وسیله ده ، چې د چاودونکو توکو یوزنځیر پر راکټ تړل کیږي او د ۳۰ فوټو پلنوالي او د ۳۲۵ فوټو په اوږدوالي ساحه کې هر څه له منځه وړي. همداراز د (هیمارس) له توغندیو څخه ، چې ۱۳ فوټه اوږدوالی لري او ۲۰۰ پاونډه چاودونکي توکي لېږدوي، هم اکثراً د ورانولو چارولپاره کار اخیستل کیږي.

کاناډا: که په افغانستان کې اداري ...

څه لګېږي چې په پام کې وي." کاناډا دناټو تر سرمشریزې لږ وړاندې اعلان وکړ، چې افغانستان ته به دځلورو کلونو په مخه په سلګونو روزونکي ولېږي، ددوی د کال مصرف به پنځه سوه ملیون ډالره وي.